## مطبوعاتي اعلامیه

# د افغانستان مخلص خلک او متنفذین باید د امریکا د جنایتونو پر وړاندې چوپ پاتې نشي

د عقرب په ۱۳مه د کندوز په چاردرې ولسوالۍ کې د امریکایي ځواکونو په برید کې تر دېرشو ډېر کسان، چې ماشومان، ښځې او سپین‌ږیري هم پکې شامل وو، مړه او ټپیان شول؛ په داسې حال کې چې په افغانستان کې د امریکا هوایي ځواکونو د عقرب په ۱٦مه د یوې خبرپاڼې په خپرولو اعلان وکړ، چې په کندوز کې د دغو ځواکونو څېړنې ښیي، چې د هغوی په برید کې هېڅ غیرنظامي ټپي او وژل شوی نه دی. بلکې ټینګار یې وکړ، چې په دغو عملیاتو کې یو شمېر یاغیان وژل شوي دي. د دې پېښې په اړه د افغانستان خاینو چارواکو هېڅ غبرګون ونه ښود؛ خو د امریکا په تکزاس ایالت کې یې پر یوې کلیسا پر برید له هغوی سره ژوره خواخوږي او غم‌شریکي څرګنده کړه.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر** دا ډول بریدونه او د چارواکو دریځ په خورا سختو الفاظو غندي. دا پېښه یو ځل بیا د جان کېري دولت د چارواکو ذلت په ډاګه کوي؛ ځکه دوی د خپل حکومت په لومړیو ۲۴ ساعتونو کې له خپل بادار سره له شرمه ډک امنیتي تړون لاسلیک کړ. دوی دومره پردیپال شوي، چې په غرب کې د هرې غتې او وړې پېښې په اړه غبرګون او همدردي څرګندوي؛ خو د افغانستان د بې‌ګناه مسلمانانو پر تلفاتو یې خوله پټه ده. د دې تر څنګ دولت د بهرنیو ځواکونو د جنایتونو د پټولو په موخه څو-څو ځله د هغوی د بمباریو مسئولیت د افغان پوځ پر غاړه وراچولی دی.

موږ یو ځل بیا د افغانستان پر مخلصو خلکو او متنفذینو باندې له اخلاص نه ډک غږ کوو، چې راشئ د دا ډول پېښو پر وړاندې نور چُپ پاتې نشو او هغه کورني اختلافونه، چې بهرنیو دولتونو او سفارتونو یې زموږ په ولس کې راپیدا کړي، پرېږدو او د چین او روسیې غبرګې ته له پنا وړلو پرته، د امریکا، ناټو او له دوی سره د ستراتیژیکو او امنیتي تړونونو پر وړاندې راپاڅو. ځکه د یوه اشغالګر دفع د بل استعمارګر په مرسته او همدارز د لویې جرګې د جوړولو له لارې «د شته ناوړه سیاسي او امنیتي حالت پای ته رسول» اصلاً ناممکن دي؛ بلکې له دې او دې ته ورته نورو بالفعل محاربو کفارو سره دوستي شرعاً حرامه ده. نو خپله فکري او سیاسي کرښه مو له دولت، شرقي او غربي قدرتونو بېله کړئ او د الله سبحانه وتعالی پر رسۍ باندې د منګولو لګولو له لارې خپلې وړتیاوې او سرچینې سره یو کړئ؛ تر څو یو بل ته لاس ورکړو او شته ناوړه حالت ته د پای ټکی کېږدو.

## د حزب التحریر-ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر